

# ”مه هیروئ!“

Download from:aghalibrary.cm

ژباړه (په څه بدلون سره):
ډاکټر غنچه ګل ارمان

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: جنت د مور له پښو لاندې دی.

در رسول الله صلی الله علیه وسلم د
حدیث مفهوم دی: هغه دوړې او ګرد
چې د خدای په لاره کې د چا په بدن
پریوځي، نه یوازې د دوزخ اور،
بلکې د جهنم دود هم پر بدن
حراموي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: که اوسپنیز میخ د یوه مؤمن په سر کې لاړ شي، له دې نه به ور ته غوره وي چې په نامحرمه ښځه یې لاس ولګېږي.

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث د مفهوم پر اساس درې کسان بدبخت دي:

۱- هغه څوک چې خپل مور او پلار یا یو یې د زړښت په وخت کې ومومي او (دی د هغوی د خدمت له برکته) جنت ته داخل نه شي.

۲- هغه کس چې د روژې میاشت پرې
تیره شي، او دی پکې د الله له خوا د
بخښنې وړ و نه ګرځي.

۳ـ هغه کس چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نوم په اوریدو پرې درود و نه وايي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث مفهوم دی چې کومه ښځه چې خپل بدن له نامحرمو څخه نه پټوي، تنګ او نامناسب کالي اغوندي او د نورو د پارونې لامل ګرځي، د جنت بوی به پرې و نه لګیږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:
هوښيار انسان هغه دى چې خپل نفس
وپيژني او له مرګه وروسته ژوند له پاره
ځان چمتو کړي.

د حيرانتيا خبره ده چې مونږه د ورځپاڼو، مجلو او نورو خپرونو په خبره په اسانۍ باور کوو، مګر د الله په کلام بې باوره يو (او دليلونه ور ته لټوو)!؟

د حیرانتیا خبره ده چې تول غواړي جنت ته لاړ شي، مګر... نه په قرآني ایتونو باور لري، نه یې په اړه فکر کوي، او نه هم قرآني غږیږي.

د تعجب ځای دی چې وایو په الله ایمان لرو او بیا (له یوه مخه) د شیطان په لار روان یو!

د حیرانتیا خبره ده چې په زرګونو ټوکې، او خندوونکي مطالب پرته له دې چې د پایلو په هکله یې فکر وکړو، خپلو ګڼو ملګرو ته لیږو، مګر د دیني پیغام په لیږلو کې بیا زړه نازړه کیږو!

د تعجب ځای دی چې شهوت پاروونکې
توکې، کیسې، لطیفې او نورې بې ګټې
خبرې په څومره پراخه کچه زمونږ په
ورځني ژوند کې یو له بل سره شریکوو،
مګر د دیني لارښوونو په هکله مو خوله
ګونګه وي!

# د حیرانتیا ځای نه دی؟

د حیرانتیا ځای دی چې کله غواړو دا او ورته نور دیني پیغامونه خپلو ملګرو ته ولیږو، په اړه یې زړه نازړه کیږو چې خوښ به یې شي، که نه!

د تعجب ځای دی چې زمونږ له پاره دا خبره چې نور مو په اړه څه ډول قضاوت کوي، مهمه ده، مګر له دې شخه چې الله به مو په اړه څه قضاوت کوي، بې پروا یو!

څه فکر کوئ؟ امکان لري چې دا پيغام له خپلو ملګرو سره شريک کړئ؟

د مهربانۍ له مخې خپل یوه دقیقه وخت
دې ته بیل کړئ چې لومړی ځان، د دې
پیغام ترتیبوونکو او ټولو مسلمانانو ته
دُعا وکړئ او بیا دا پیغام له خپلو ملګرو
سره شریک کړئ.

دا سلایډ له اصلاح انلاین څخه راښکته شوی.

د نورو له پاره له دې لارې ورتلی شئ:

اصلاح انلاین

http://eslahonline.net

Abdullah-Ulfat